# د حجای نبي کتاب

## د کتاب پېژندنه

حجای نبي دا کتاب د میلاد نه مخکې په ۵۲۰ کال کې لیکلی دی. کله چې د اسراییلو د قوم پاتې شوي خلک د بابل د جلاوطنۍ څخه بېرته خپل وطن ته راستانه شول، نو د اورشلیم په ښار کې یې د خدای د کور په جوړولو پیل وکړ. خو ګاونډیانو یې هغوی ووېرول او هغوی ونه شو کولای چې خپل کار ته دوام ورکړي. همدارنګه د اسراییلو خلکو شکایت وکړ چې دا ودانۍ به د هغه عبادتځای په شان ښکلې او پرتمینه نه وي کومه چې سلیمان پاچا جوړه کړې وه. له دې امله خلکو د خدای د کور د جوړولو کار پرېښود او د خپلو ځانونو دپاره یې د ډېرو ښکلیو کورونو په جوړولو باندې شروع وکړه. په پای کې څښتن وچکالي راولېږله چې د هغوی د ځمکو حاصلات له منځه لاړل او خلک



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

دومره غریبان شول چې حتی د ګرمېدلو دپاره يې پوره کالي او د خوراک دپاره يې پوره خواړه نه درلودل.

په دې وخت کې ښبښتن حجای نبي غوره کړ، ترڅو د اسراییلو خلک په زړه راښکونکي پیغام سره وهڅوي، ترڅو یوځل بیا د عبادتځای د بیا رغونې کار پیل کړي. د اسراییلو خلکو دا پیغام واورېد او د خدای حکم يې ومانه.

د حجای نبي د کتاب پېښې لوستونکي ته دا یادونه کوي چې ښبښتن سره باید د نورو شیانو نه زیاته مینه وکړي او د هغه اطاعت وکړي.

# د موضوعګانو لست


د خدای د کور د بیا جوړولو حکم: لومړی فصل

د سوکالۍ او امید ورکولو وعده : دوهم فصل




Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# خښتن خدای د خپل کور د بېرته جوړولو حکم کوي

١ د فارس د پاچا داریوش د پاچاهۍ په دوهم کال، د شپږمې میاشتې په لومړۍ ورځ خښتن د حجای پیغمبر په وسیله خبرې وکړې. دا پیغام د یهودا د والي د شلتي‌ییل زوی زروبابل او یهوصاداق د زوی یوشع مشر کاهن دپاره ؤ. ٢ مطلق قادر خښتن حجای ته داسې وايي: «دا خلک وايي چې دا د خښتن خدای د کور د جوړولو دپاره سم وخت نه دی.» ٣ بیا خښتن د حجای پیغمبر په وسیله دا پیغام خلکو ته ولېږه: ٤ «ای زما خلکو، تاسو ولې په ښایسته کورونو کې اوسېږئ، په داسې حال کې چې زما کور کنډواله پروت دی؟ ٥ مطلق قادر خښتن داسې وايي: «وګورئ چې ستاسو سره څه کېږي. ٦ تاسو زیاتې غلې دانې کرلي دي، خو لږ فصل مو رېبلی دی. تاسو خورئ، خو ورباندې نه مړېږئ. تاسو څښئ، خو دومره نه دي چې ستاسو تنده ورباندې ماته شي! تاسو کالي لرئ، خو په کې نه ګرمېږئ. یو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کارګر نه شي کولای چې دومره څه وګټي چې ژوند ورباندې وکړي.

٧ مطلق قادر څښتن داسې وايي: «وګورئ چې ستاسو سره څه کيږي. ٨ اوس غونډيو ته وخيژئ، لرګي راپيدا کړئ او زما کور بيا جوړ کړئ، نو زه به خوشحاله او عزتمن شم. ٩ تاسو د زيات فصل په تمه وئ، خو هغه کم ؤ. کله چې هغه حاصلات مو کور ته راوړل، ما به هغه په باد يووړل. زه ولې داسې کار کوم؟ دا ځکه چې په داسې حال کې چې زما کور کنډواله پروت دی، تاسو هر يو د خپلو کورونو په جوړولو اخته يئ. ١٠ نو ځکه هلته باران نه اوريږي او هيڅ شی نه راشنه کيږي. ١١ ما په ځمکه، غونډيو، کروندو، د انګورو په باغونو، د زيتونو په باغونو، د ځمکو په ټولو فصلونو، په خلکو، حيواناتو او په هغو ټولو شيانو باندې چې تاسو يې کرئ، وچکالي راوستې ده.»

## خلک د څښتن د حکمونو څخه پيروي کوي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ بیا د شلتي‌ییل زوی زروبابل او د یهوصاداق زوی یوشع او
هغو ټولو خلکو چې په بابل کې د جلاوطنۍ نه راستانه شوي وو،
هغه کارونه وکړل چې خپل څښتن خدای ورته ویلي وو. هغوی د
خپل څښتن خدای نه وویرېدل او د هغه د استازي حجای اطاعت
یې وکړ. ۱۳ بیا حجای خلکو ته د څښتن دا پیغام ورساوه: «دا
زما وعده ده چې زه به ستاسو سره مل یم.» ۱۴ څښتن ټول
خلک دې ته وهڅول چې د خدای په کور باندې کار وکړي، یعنې
د شلتي‌ییل زوی زروبابل د یهودا والي، د یهوصاداق زوی مشر
کاهن یوشع او هغه ټول خلک چې د جلا وطنۍ نه راستانه شوي
دي. هغوی راغلل او د خپل مطلق قادر څښتن خدای په کور
باندې یې کار شروع کړ. ۱۵ هغوی دا کار د داریوش پاچا د
پاچاهۍ د دوهم کال د شپږمې میاشتې په څلورویشتمه ورځ
شروع کړ.

## د خدای د نوي کور شان او شوکت


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

١ د هماغه کال د اوومې مياشتې په يوويشتمه ورځ ښبنتن
يوځل بيا د حجای نبي په وسيله خبرې وکړې. ٢ هغه حجای ته
وويل چې د شلتيئيل زوی زروبابل چې د يهودا والي دی، مشر
کاهن يوشع د يهوصاداق زوی او ټولو خلکو سره خبرې وکړي او
هغوی ته ووايي: ٣ «ايا په تاسو کې داسې څوک شته چې د
خدای د کور پخوانی شان او شوکت ورته په ياد وي؟ هغه تاسو
ته اوس څنګه ښکاري؟ دا به تاسو ته هيڅ هم نه ښکاري. ۴
خو ښبنتن داسې وايي چې ای زروبابله، اوس قوي اوسه. ای
يوشع کاهنه د يهوصاداق زويه، قوي اوسه. ای ټولو خلکو، قوي
اوسئ . خپل کار کوئ، ځکه چې زه درسره مل يم. مطلق قادر
ښبنتن داسې وايي. ۵ کله چې ستاسو نيکونه د مصر نه راوتل،
نو ما د هغوی سره وعده وکړه چې زه تل ستاسو سره مل يم. زما
روح به تل ستاسو سره مل وي، نو ونه وېرېږئ.»

۶ مطلق قادر ښبنتن داسې وايي: «زه به لږه موده وروسته
ځمکه او اسمانونه او وچه او بحيره ولړزوم. ٧ زه به ټول قومونه
ولړزوم او د هغوی خزانې به دلته راوړل شي او دا کور به د جلال


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه ډک شي. ۸ د دنیا ټول سپین زر او سره زر زما دي. مطلق قادر څښتن داسې وايي. ۹ د دې کور شان او شوکت به د زوړ کور نه زیات وي او په هغه ځای کې به زه خپل قوم ته نېکمرغي او ارامي راولم.» مطلق قادر څښتن داسې وايي.

## حجای نبي د کاهنانو نه پوښتنه کوي

۱۰ د داریوش د پاچاهۍ په دوهم کال د نهمې میاشتې په څلورویشتمه ورځ مطلق قادر څښتن یوځل بیا د حجای پیغمبر سره خبرې وکړې. ۱۱ مطلق قادر څښتن داسې وايي: «د کاهنانو نه پوښتنه وکړه چې شریعت د دې موضوع په هکله څه وايي. ۱۲ فرض کړئ یو څوک د قربانۍ د سپېڅلې غوښې نه لږه واخلي او په خپله لمنه کې یې واچوي او هغه یوسي. که د هغه لمن د ډوډۍ، پخو خوړو، شرابو، تېلو او هر قسم خوړو سره ولګېږي، ایا هغه خواړه به هم سپېڅلي شي؟ نو کاهنانو ځواب ورکړ او ویې ویل: ‹نه.›» ۱۳ نو حجای پوښتنه وکړه: «فرض کړئ یو سړی په


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مړي باندې ولګېده او ناپاکه شو. که چېرې هغه د دې خوړو نه

کوم يو ته لاس ورووړي، ايا هغه به هم ناپاکه شي؟› کاهنانو

ځواب ورکړ: ‹هو.›» ۱۴ بيا حجای وويل: «نو څښتن وايي چې د

دې قوم خلک هم همداسې دي. هغوی چې هر کار کوي او هر

څه چې د قربانۍ په ځای کې وړاندې کوي، هغه به ناپاک وي.»

## اوسنی حالت او د برکت وعده

۱۵ څښتن وايي: «وګورئ چې ستاسو سره څه کيږي. مخکې

له دې چې زما د کور بيا جوړول شروع کړئ، ۱۶ تاسو دا تمه

لرله چې شل خرواره حاصل به واخلئ، خو يوازې لس خرواره به

ترلاسه کړئ. تاسو دا تمه لرله چې د يوې چاټۍ نه به پنځوس

ليتره شراب راوباسئ، خو تاسو يوازې شل ليتره ترلاسه کړل. ۱۷

ما يو سوځوونکی باد، مرض او ږلۍ نازل کړل چې تاسو چې هر

څه کرلي دي هغه خراب کړي، خو تاسو بيا توبه ونه ويستله. ۱۸

نن د نهمې مياشتې څلورويشتمه ورځ ده يعنې هغه ورځ ده چې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خدای د کور تهداب به ایښودل کیږي. نو ګورئ چې د نن نه وروسته به څه کیږي. ۱۹ سره له دې چې نه غلې دانې پاتې دي او نه د انګورو تاکونو، نه د انځرو ونو، نه انارو او نه د زیتونو ونو حاصل ورکړی، خو له همدې نن ورځې نه به تاسو ته برکت درکوم.»

## د زروبابل سره د ښبتن وعده

۲۰ په هماغه ورځ چې د میاشتې څلورویشتمه وه څښتن
حجای ته دوهم پیغام ورکړ چې ۲۱ د یهودا والي زروبابل ته
ووایه: «زه به زر ځمکه او اسمان ولړزوم ۲۲ او د پاچاهیو تختونه
به رانسکور کړم او د هغوی قدرت به له منځه یوسم. زه به جنګي
ګاډي او د هغو چلوونکي په بل مخ راواړوم، اسونه به مړه شي او
سپاره خلک به یې یو بل سره وژني. ۲۳ نو ای د شلتي‌ییل زویه،
زما خدمتګار زروبابله، زه به تا په هغه ورځ راونیسم او تا نه به د
خپلې ګوتې مهر جوړ کړم چې زما په نامه به حکومت کوې. ته


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغه څوک يې چې ما غوره کړی يې.» مطلق قادر څښتن داسې
وايي.